Essex County Council

د ایسیکس کونټي کونسل

# د والدینو لپاره لارښود

# د لومړنیو زده کړو تمویل شوی استحقاق (FEEE) لپاره د:

- نهه میاشتني تر دوه کلن ماشومان
- دوه کلن ماشومان
- درې او څلور کلن ماشومان

## اپریل 2024

## منځپانګې


| | |
|---|---|
| 1. پېژندنه | 3 |
| 2. د ماشوم پالنې مناسب ځای غوره کول | 4 |
| 3. ورتوب | 5 |
| 4. د FEEE ځایونو تمویل | 8 |
| 5. د پام وړ ټکي | 9 |
| 6. د فیسونو او لګښتونو جدول | 12 |

## 1. پېژندنه

د ماشوم پالنې لپاره د ښه کيفيت لرونکي ځای موندل د والدينو لپاره کيدی شي ستونزمن وي. دلته ډيری شيان شتون لري چې بايد ورته پام وشي او پوښتنه کول يې هېر نشي کله چې تاسو د ماشوم پالنې چمتو کونکي څخه ليدنه کوئ.

دا لارښود د ياد ساتلو لپاره تاسو ته مهم ټکي وړاندې کوي ترڅو تاسو پوه شئ چې څنګه کولی شئ د خپل ماشوم لپاره د تمويل شوي ابتدايي زده کړې استحقاق ته لاسرسی ومومئ او هغه څه درته وړاندې کوي چې تاسو بايد پرې پوه شئ مخکې له دې چې تاسو د وړکتون يا نرسري پري سکول يا ماشوم پالنې سره ځان ثبت کړئ. موږ د دې لارښود په پاتې برخه کې د "ماشوم پالنې خدمت چمتو کونکی" کلمه د نرسري، پري سکول يا ماشوم پالنې خدمت لپاره پرځای کارو.

### د تمويل شوي ابتدايي زده کړې استحقاق (FEEE) څه شی دی؟

FEEE د انګلستان حکومت لخوا د ټولو وړ ماشومانو لپاره مالي مرسته يا فندنګ ده ځکه دوی غواړي چې ماشومان د نرسري ښه زده کړې ترلاسه کړي ترڅو په ژوند کې ترټولو غوره پيل ولري.

- د سپټمبر 2024 څخه، د وړ کارکونکي والدينو نهه مياشتني ماشومان کولی شي د 9 مياشتو کېدو څخه وروسته ټرم (ټعليمي دروه) کې تمويل شوي استحقاقي ساعتونه ترلاسه کړي (.**(FEEE1W** ماشومان به د کال په ترڅ کې تر 570 پورې تمويل شوي استحقاقي ساعتونه ترلاسه کړي. دا د 38 اونيو لپاره په اونۍ کې د 15 ساعتونو لپاره دی په دې شرط چې والدين د وړتيا معيارونه پوره کړي.
- د 2024 کال د اپريل څخه، د وړ کارکونکي والدينو دوه کلن ماشومان کولی شي د دوه کلن کېدو څخه وروسته ټرم کې تمويل شوي استحقاقي ساعتونه ترلاسه کړي (.**(FEEE2W** ماشومان به د کال په ترڅ کې تر 570 پورې تمويل شوي استحقاقي ساعتونه ترلاسه کړي. دا د 38 اونيو لپاره په اونۍ کې د 15 ساعتونو لپاره دی په دې شرط چې والدين د وړتيا معيارونه پوره کړي.
- ځيني دوه کلن ماشومان کولی شي تمويل شوي ساعتونه ترلاسه کړي که چېرې د دوی والدين ځيني مالي مرستې ترلاسه کوي، اقتصادي معيارونو پوره کوي يا دا ماشوم ځيني غير اقتصادي معيارونه پوره کوي (.**(FEEE2** ماشومان به د کال په ترڅ کې تر 570 پورې تمويل شوي استحقاقي ساعتونه ترلاسه کړي. دا د 38 اونيو لپاره په اونۍ کې د 15 ساعتونو لپاره دی په دې شرط چې والدين د وړتيا معيارونه پوره کړي.
- ټول درې او څلور کلن ماشومان کولی شي له هغې دورې څخه چې د دوی له درې کلن کيدو څخه وروسته پيل کېږي تر هغه چې ښوونځي ته ځي، تمويل شوي استحقاقي ساعتونه ترلاسه کړي، دې ته عمومي استحقاق ويل کيږي (.**(FEEE3&4** ماشومان به په کال کې تر 570 پورې تمويل شوي استحقاقي ساعتونه ترلاسه کړي. دا په اونۍ کې 15 ساعته د 38 اونيو مودې لپاره دی.
- د وړ کار کونکي والدين درې او څلور کلن ماشومان کولی شي د غځېدلي مودې تمويل شوی استحقاق **(EFE)** ترلاسه کړي، کوم چې اضافه 15 تمويل شوي ساعتونه دي، دا ډيری کله د "30 ساعته وړانديز" په نوم يادېږي. دا ځکه چې ماشومان کولی شي د 38 اونيو لپاره په اونۍ کې تر 30 ساعتونو پورې ترلاسه کړي چې ټوليز ډول په کال کې 1140 ساعته تمويل شوي استحقاق دی.
- دا 38 اونۍ (يا 570 ساعته) د اپريل په پيل کې شروع کيږي او د راتلونکي کال د مارچ په آخر کې پای ته رسيږي. د دې شرايط په لاندې ډول دي:
  - د اوړي ټرم - د اپريل څخه تر جولای پورې
  - د مني ټرم - د سپټمبر څخه تر دسمبر پورې
  - د پسرلي ټرم - د جنوري څخه تر مارچ پورې

## 2. د ځان او خپل ماشوم لپاره د ماشوم پالنې د مناسب ځای غوره کول

د ماشومانو د پالنې بېلابېل ډولونو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ لاندې لينک باندې کليک وکړئ

د کورنۍ او ماشوم پالنې اداري د ماشوم پالنې-خدمت-د غوره کولو-پېنځه-ګامونه په دې کې د ګټورو پوښتنو لیست شامل دي چې د ماشوم پالنې خدمت د لټولو په وخت کې باید په پام کې ونیول شي یا مهرباني وکړئ له دې ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ: د ماشوم پالنې چمتو کونکي وموميئ: د ماشوم پالنې ډولونه - د ایسکس کاونټي کونسل.

تاسو کولی شئ د ماشومانو پالنې ټولو دولتي مرستو په اړه او د غوښتلیک ورکولو د څرنګوالي په اړه معلومات د د ماشوم پالنې د انتخابونو په ویب پاڼه کې پیدا کړئ. همدا رنګه د ECC په اصلي ویب پاڼه کې د کورنیو د معلوماتو خدمت (FIS) په ویب پاڼه کې د والدینو لپاره معلومات شتون لري د کورنیو معلوماتي خدمت - د ایسکس کاونټي کونسل

تاسو کولی شئ پدې لینک کلیک کولو سره په ایسیکس کې د ماشوم پالنې خمت چمتو کونکي ولټوئ د ماشوم پالنې خدمت چمتو کونکي وموميئ (essex.gov.uk)

یا تاسو کولی شئ د بریښنالیک له لارې د کورنی معلوماتو خدماتو سره اړیکه ونیسئ fis@essex.gov.uk

یا تاسو کولی شئ د کورنی مرکز یا Family Hub څخه لیدنه وکړئ، تاسو کولی شئ د دې لینک په کلیک کولو سره خپل تر ټولو نږدې مرکز پیدا کړئ https://essexfamilywellbeing.co.uk/hubs/ یا له خپل ځانګړی شوی ټولنیز کارکونکی سره خبرې وکړئ.

د لومړیو کلونو ټول چمتو کونکي دنده لري چې د ځانګړي تعلیمي اړتیاو او معلولیت لرونکو ماشومانو (SEND) ملاتړ وکړي او تاسو ته به په دې اړه معلومات درکړي چې دوی به دا څنګه ترسره کړي. که ستاسو ماشوم SEND لري او تاسو د سم ځای د موندلو لپاره اضافي مرستې ته اړتیا لرئ، لطفاً early.years@essex.gov.uk ته بریښنالیک واستوئ او یو څوک به ستاسو د ماشوم پالنې په لټون کې له تاسو سره مرسته وکړي.

د ماشوم پالنې خدمت چمتو کونکي کولی شي د FEEE غوښتنه وکړي که چېرې دوی:

- د آفسټډ (Ofsted ) اداري سره د لومړیو کلونو چمتو کونکي په توګه ثبت وي، یا دا چې دوی د یوه ښوونځي نرسرۍ وي او د دې ښوونځي د یوې برخې په توګه ثبت وي.
- د کارکونکي والدینو ټولو درې او څلور کلنو ماشومانو ته د تمویل شوي استحقاق وړاندې کولو لپاره له Ofsted څخه د «ښه»، «عالي» او یا «ښه کېدو ته اړتیا لري» حکم لري FEEE3&4,EFE, FEEE2W او FEEE1W
- هغو دوه کلنو ماشومانو ته چې د اقتصادي او غیر اقتصادي وړتیا معیارونو پوره کوي د تمویل شوي استحقاق وړاندې کولو لپاره له Ofsted څخه «ښه» یا «عالي» حکم لري.
- د ایسکس کاونټي کونسل سره د FEEE تړون ولرئ

که چیرې یو ماشوم پالونکی د ماشوم پالنې د یوې اداري برخه وي، دوی بیا هم کولی شي د FEEE غوښتنه وکړي که چیرې اداره یا د ماشوم پالونکی د ایسیکس کونسل سره د تمویل تړون ولري.

د ماشوم پالنې خدمت نوي راجستر شوي چمتو کونکي کولی شي د دوی د لومړي آفسټډ تفتیش څخه دمخه FEEE خدمتونه وړاندې کړي. مګر، که دوی په خپل لومړي آفسټډ تفتیش کې د ښه یا عالي فیصله ترلاسه نکړي، دوی به ونشي کولی دوه کلنو ماشومانو ته د FEEE خدمت وړاندې کړي.

د ایسیکس کاونټي کونسل باید ډاډ ترلاسه کړي چې د ماشومانو پالنې ټول چمتو کونکي چې د FEEE ساعتونو غوښتنه کوي:

- د لومړنیو کلونو فونډیشن مرحله (EYFS) بشپړ نصاب وړاندې کړئ
- د هغو ماشومانو په اړه ریکارډونه وساتئ چې FEEE ترلاسه کوي او دا معلومات د غوښتنې په صورت کې ځایي چارواکو ته چمتو کړي.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې پالونکي (Nannies ) نشي کولی د FEEE غوښتنه وکړي یا د ایسیکس سره د FEEE تړون ولري ځکه چې دوی له آفسټډ سره د لومړي کلونو چمتو کونکي په توګه راجستر شوي ندي.

## 3. وړتوب 4

**د وړ کارکونکي والدینو نهه میاشتني ماشومان - FEEE1W**

د سپتمبر 2024 څخه تاسو کیدی شي وکولی شئ د خپل ماشوم لپاره په هغه ټرم یا تعلیمي دروه کې چې د دوی له نهه میاشتني کېدو څخه وروسته پیل کیږي FEEE1W ترلاسه کړئ، په دې شرط چې تاسو د وړتیا معیارونه پوره کړئ.

| **که د دې نېټو په منځ کې د 9 میاشتو شي** | **دوی FEEE1W ترلاسه کوي** |
| --- | --- |
| 1 اپریل - 31 اګست | 1 سپتمبر وروسته له هغه چې دوی د نهو میاشتو شي |
| 1 سپتمبر - 31 دسمبر | 1 جنوري وروسته له هغه چې دوی د نهو میاشتو شي |
| 1 جنوري - 31 مارچ | 1 اپریل وروسته له هغه چې دوی د نهو میاشتو شي |

تاسو کولی شئ خپله وړتیا دلته آنلاین معلوم کړئ [https://www.gov.uk/check-eligible-free-childcare-if-youre-working](https://www.gov.uk/check-eligible-free-childcare-if-youre-working) او یو آنلاین غوښتنلیک بشپړ کړئ. مخکې لدې چې تاسو د دې استحقاق لپاره خپل نوم ثبت کړئ، تاسو باید ټول اختیارونو ته کتنه وکړئ ترڅو ډاډمن شئ چې تاسو د ځان لپاره ترټولو غوره کڅوړه انتخاب کړې. کیدی شي چې په ورکېنګ ټکس کرېډټ کې د ماشوم پالنې عنصر اغیزمن شي ځکه چې کیدی شي تاسو د ماشوم پالنې لپاره لږې پیسې ورکوئ.

که تاسو شرایط پوره کوئ، تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د FEEE1W لپاره د هغې تعلیمي دورې یا ترم له پیل څخه دمخه غوښتنلیک ورکړئ په کوم کې چې تاسو غواړئ ستاسو تمویل پیل شي. **مهرباني وکړئ په یاد ولرئ**: که چېرې تاسو د هغې تعلیمي دورې یا ترم له پیل څخه وروسته د خپل کوډ غوښتنه وکړئ په کوم کې چې تاسو غواړئ تمویل پیل شي، ستاسو چمتو کونکی به ونه توانیږي چې د تمویل غوښتنه وکړي. تاسو باید د دې تعلیمي دورې لپاره شخصي فیس ورکړئ.

کله چې تاسو خپل غوښتنلیک پای ته ورسوئ او یو حساب جوړ کړئ نو تاسو به د وړتیا کوډ ترلاسه کړئ ترڅو د خپل ماشوم د پالنې چمتو کونکي ته یې ورورئ او هغوی به کوډ به د لومړیو کلونو په پورټل کې چېک کړي. که د کوډ ټول چیکونه بریالي وي، تاسو کولی شئ خپل تمویل شوي ساعتونه ریزرف کړئ. تاسو به د خپل ماشوم د زیږون سند هم ښکاره کړئ.

تاسو باید په هرو 3 میاشتو کې له Childcare Choices سره خپل د وړتیا کوډ تجدید کړئ. کله چې ستاسو غوښتنلیک ومنل شي، ستاسو د تجدید نیټه به تاسو ته درکړله شي. لطفاً دا نېټه په یاد ولرئ او خپل کوډ تجدید کړئ ترڅو د تمویل شوي ساعتونو ترلاسه کولو ته ادامه ورکړئ.

## د وړ کارکونکي والدینو دوه کلن ماشومان - د لومړنیو زده کړو تمویل شوی استحقاق (FEEE2W)

د اپریل 2024 څخه تاسو کیدی شي وکولی شئ د خپل ماشوم لپاره په هغه ټرم یا تعلیمي دروه کې چې د دوی له دوه کلن کېدو څخه وروسته پیل کیږي FEEE2W ترلاسه کړئ، په دې شرط چې تاسو د وړتیا معیارونه پوره کړئ.

| **که د زیږون ورځ یې د دې نېټو په منځ کې وي** | **دوی FEEE2W ترلاسه کوي** |
| --- | --- |
| 1 اپریل - 31 اګست | 1 سپتمبر د دوی د زیږون له دوهمې کلیزې څخه وروسته |
| 1 سپتمبر - 31 دسمبر | 1 جنوري د دوی د زیږون له دوهمې کلیزې څخه وروسته |
| 1 جنوري - 31 مارچ | 1 اپریل د دوی د زیږون له دوهمې کلیزې څخه وروسته |

تاسو کولی شئ خپله وړتیا دلته آنلاین معلوم کړئ [https://www.gov.uk/check-eligible-free-childcare-if-youre-working](https://www.gov.uk/check-eligible-free-childcare-if-youre-working) او یو آنلاین غوښتنلیک بشپړ کړئ. مخکې لدې چې تاسو د دې استحقاق لپاره خپل نوم ثبت کړئ، تاسو باید ټول اختیارونو ته کتنه وکړئ ترڅو ډاډمن شئ چې تاسو د ځان لپاره ترټولو غوره کڅوړه انتخاب کړې. کیدی شي چې په ورکېنګ ټکس کرېډټ کې د ماشوم پالنې عنصر اغیزمن شي ځکه چې کیدی شي تاسو د ماشوم پالنې لپاره لږې پیسې ورکوئ.

که چېرې تاسو وړ یاست نو تاسو باید د FEEE2W لپاره د هغې تعلیمي دورې یا ترم له پیل څخه دمخه غوښتنلیک ورکړئ په کوم کې چې تاسو غواړئ تمویل پیل شي. **مهرباني وکړئ په یاد ولرئ**: که چېرې تاسو د هغې تعلیمي دورې یا ترم له پیل څخه وروسته د خپل کوډ غوښتنه وکړئ په کوم کې چې تاسو غواړئ تمویل پیل شي، ستاسو چمتو کونکی به ونه توانیږي چې د تمویل غوښتنه وکړي. تاسو باید د دې تعلیمي دورې لپاره شخصي فیس ورکړئ.

کله چې تاسو خپل غوښتنلیک پای ته ورسوئ او یو حساب جوړ کړئ نو تاسو به د وړتیا کوډ ترلاسه کړئ ترڅو د خپل ماشوم د پالنې چمتو کونکي ته یې ورورئ او هغوی به کوډ به د لومړیو کلونو په پورټل کې چېک کړي. که د کوډ ټول چیکونه بریالي وي، تاسو کولی شئ خپل تمویل شوي ساعتونه ریزرف کړئ. تاسو به د خپل ماشوم د زیږون سند هم وښایئ.

تاسو باید په هرو 3 میاشتو کې له Childcare Choices سره خپل د وړتیا کوډ تجدید کړئ. کله چې ستاسو غوښتنلیک ومنل شي، ستاسو د تجدید نیټه به تاسو ته درکړل شي. لطفاً دا نیټه په یاد ولرئ او خپل کوډ تجدید کړئ ترڅو د تمویل شوي ساعتونو ترلاسه کولو ته ادامه ورکړئ.

**د دوه کلنو ماشومان لپاره د لومړنیو زده کړو تمویل شوی استحقاق (FEEE2)**

تاسو کولی شئ د خپل دوه کلن ماشوم لپاره FEEE2 ترلاسه کړئ که چیرې تاسو ځینې مالي مرستې (بینیفټس) ترلاسه کوئ او یا اضافي معیارونه پوره کوئ.

د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ لاندې لینک باندې کلیک وکړئ [د 2 کلنو ماشومانو لپاره د ماشوم پالنې لګښت سره مرسته]

د ایسیکس کونټي کونسل د ښوونې او روزنې د وړتیا چک کولو خدمت (ECS) څخه کار اخلي ترڅو وګوري چې ماشومان د وړتیا معیارونه پوره کوي، د هغو کټو یا بینیفټس پربنسټ چې والدین یې ترلاسه کوي (د یونیورسل کریډیټ په شمول).

وړ دوه کلن ماشومان کولی شي د دوی دوه کلنی څخه وروسته د ښوونځي دورې FEEE ته لاسرسی ومومي، لاندې وګورئ:

| که د زیږون ورځ یې د دې نېټو په منځ کې وي | دوی FEEE2 ترلاسه کوي |
|---|---|
| 1 اپریل – 31 اګست | 1 سپتمبر د دوی د زیږون له دوهمې کلیزې څخه وروسته |
| 1 سپتمبر - 31 دسمبر | 1 جنوري د دوی د زیږون له دوهمې کلیزې څخه وروسته |
| 1 جنوري - 31 مارچ | 1 اپریل د دوی د زیږون له دوهمې کلیزې څخه وروسته |

که تاسو وړ یاست او تاسو غواړئ په دې اړه له یو چا سره خبرې وکړئ، تاسو کولی شئ د خپلې سیمې لپاره د ایسیکس ماشوم او کورنۍ هوساینې خدمت له فامیلي هب سره اړیکه ونیسئ. ستاسو د ځایي فامیلي هاب دلته موندل کېدی شي [https://essexfamilywellbeing.co.uk/hubs/]

د دې لپاره چې د 2 کلن ماشوم د تمویل لپاره ځان ثبت یا راجستر کړئ، تاسو باید په آنلاین ډول درخواست وکړئ، او تاسو باید: ولرئ:

- ستاسو د ملي بیمې شمېره یا د پناه غوښتونکو د ملي خدماتو شمېره
- [Essex Education Portal - Logon] ته لاړ شئ او د خپل بریښنالیک آدرس او پټنوم یا پاسورډ په کارولو سره د ننه شئ. که تاسو د لومړي ځل لپاره پورټال ته لاسرسی کوئ، مهرباني وکړئ راجستر کلیک وکړئ او ورکړل شوي لارښوونې تعقیب کړئ

که تاسو انټرنیټ ته لاسرسی نلرئ یا د آنلاین فورمې په ډکولو کې ملاتړ ته اړتیا لرئ، تاسو کولی شئ له لاندې څخه ملاتړ ترلاسه کړئ:

- فامیلي هب یا د کورنیو مرکز - د دوی سره د اړیکه نیولو د څرنګوالي په اړه پورته توضیحات وګورئ
- برېښنالیک: [Early.Years@essex.gov.uk]
- د خپل ماشوم د پالنې خدمت چمتو کونکي، روغتیا لیدونکي یا ټولنیز کارکونکي/سوشل ورکر سره خبرې وکړئ

کله چې تاسو آنلاین فورمه ډکه کړه، او د وړتیا چکونه تیر شول نو تاسو به د حوالې یا ریفرینس شمیره ترلاسه کړئ کوم چې تاسو کولی شئ د خپل ماشوم د پالنې چمتو کونکي ته ورکړئ ترڅو 15 تمویل شوي ساعتونه ترلاسه کړئ. تاسو اړتیا لرئ چمتو کونکي ته د خپل ماشوم د زیږون سند، ستاسو د ملي بیمې شمیره او نور شواهد وښایاست که چیرې د اضافي معیارونو له امله وړ شوي یاست.

**د درې او څلور کلنو ماشومانو FEEE - په اونۍ کې عمومي 15 ساعتونه (FEEE3&4)**

ټول 3 او 4 کلن ماشومان مستحق دي چې له هغې تعلیمي دورې څخه چې د دوی د زیږون له دریمې کلیزې نه وروسته پیل کیږي په اونۍ کې عمومي 15 ساعته (د تعلیمي دورې په موده کې) تمویل ترلاسه کړي، لاندې وګورئ:

| که د زیږون ورځ یې د دې نېټو په منځ کې وي | دوی FEEE3&4 ترلاسه کوي |
|---|---|
| 1 اپریل - 31 اګست | 1 سپتمبر د دوی د زیږون له دریمې کلیزې څخه وروسته |

| | |
|---|---|
| 1 سپتمبر - 31 دسمبر | 1 جنوري د دوی د زېږون له دریمي کلیزې څخه وروسته |
| 1 جنوري - 31 مارچ | 1 اپریل  د دوی د زېږون له دریمي کلیزې څخه وروسته |

دا نیتې د پوهنې وزارت لخوا ټاکل شوي او بدلیدلی نشي.

که ستاسو ماشوم لا دمخه د ماشوم پالنې خدمت یو چمتو کونکي ته ځي، دوی کیدی شي وکولی شي د FEEE غوښتنه وکړي نو له دوی سره وګوري ترڅو معلوم کړئ چې ستاسو ماشوم څنګه د تمویل شوي ساعتونو استحقاق ته لاسرسی موندلی شي.

که ستاسو ماشوم د ماشوم پالنې خدمت یو چمتو کونکي ته نه ځي، تاسو به اړتیا ولرئ چې یو داسې چمتو کونکی ومومئ چې د FEEE استحقاق ځایونه وړاندې کوي او خپل ماشوم ورسره راجستر کړئ.

### درې او څلور کلنو ماشومانو لپاره FEEE – د غځېدلي مودې تمویل شوی استحقاق (EFE)

ځینې ماشومان به د EFE لپاره وړ وي کوم چې په کال کې د 38 اونیو لپاره په اونۍ کې 15 ساعته اضافي تمویل دی. تاسو کولی شئ خپل وړتیا آنلاین چیک کړئ [د ماشومانو د پالنې محاسبه کونکی - GOV.UK](#) او یو آنلاین غوښتنلیک بشپړ کړئ. مخکې لدې چې تاسو د تمدید شوي استحقاق لپاره لاسلیک وکړئ، تاسو اړتیا لرئ ټول اختیارونه وګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د ځان لپاره غوره کڅوره انتخاب کوئ. کیدی شي چې په ورکېنګ ټکس کرېډټ کې د ماشوم پالنې عنصر اغیزمن شي ځکه چې کیدی شي تاسو د ماشوم پالنې لپاره لږ پیسې ورکوئ.

که تاسو وړ یاست نو تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د EFE لپاره د هغې تعلیمي دورې یا ترم له پیل څخه دمخه غوښتنلیک ورکړئ په کوم کې چې تاسو غواړئ تمویل پیل شي. **مهرباني وکړئ په یاد ولرئ**: که تاسو د هغې تعلیمي دورې یا ترم له پیل څخه وروسته د خپل کوډ غوښتنه وکړئ په کوم کې چې تاسو غواړئ تمویل پیل شي، ستاسو چمتو کونکی به ونه توانېږي چې د EFE تمویل غوښتنه وکړي. تاسو به وکولی شئ چې یوازې په هغه ترم کې د 15عمومي ساعتونو استحقاق په اونۍ کې ترلاسه کړئ.

کله چې تاسو خپل غوښتنلیک پای ته ورسوئ او یو حساب جوړ کړئ نو تاسو به د وړتیا کوډ ترلاسه کړئ ترڅو د خپل ماشوم د پالنې چمتو کونکي ته یې وروړئ او هغوی به کوډ به د لوميړیو کلونو په پورټل کې چېک کړي. که د کوډ ټول چیکونه بریالي وي، تاسو کولی شئ خپل د غځېدلي مودې ساعتونه ریزرف کړئ. تاسو به د خپل ماشوم د زیږون سند هم وښایئ.

تاسو باید په هرو 3 میاشتو کې له Childcare Choices سره خپل د وړتیا کوډ تجدید کړئ. کله چې ستاسو غوښتنلیک ومنل شي، ستاسو د تجدید نیټه به تاسو ته درکړل شي. لطفاً دا نېټه په یاد ولرئ او خپل کوډ تجدید کړئ ترڅو د غځول شوي ساعتونو ترلاسه کولو ته ادامه ورکړئ.

### د لومړنیو کلونو زده کونکي پریمیم یا فیس (EYPP)

ټول وړ ماشومان چې د FEEE ترلاسه کوي کېدی شي د EYPP لپاره وړ وي. EYPP د 3- او 4 کلنو ماشومانو EFE لپاره نه ورکول کیږي (د کار کونکي والدینو لپاره اضافي 15 ساعته). EYPP د ماشوم پالنې چمتو کونکي ته اضافي بودیجه ورکوي، کوم چې دوی کولی شي د هغو سرچینو د چمتو کولو لپاره وکاروي چې ستاسو له ماشوم سره مرسته کوي.

د دې لپاره چې دوی وکولی شي د دې اضافي تمویل غوښتنه وکړي، ستاسو د ماشوم پالنې چمتو کونکی به له تاسو څخه وغواړي چې د والدین / پالونکي ټرون فورمه کې یوه برخه ډکه کړي.

ستاسو د ماشوم پالنې چمتو کونکی به تاسو سره د هغه څه په اړه خبرې وکړي چې ستاسو ماشوم ورته اړتیا لري ترڅو د زده کړې په اړه ورسره مرسته وکړي. بیا دوی کولی شي اضافي تمویل وکاروي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دوی هغه ملاتړ ترلاسه کوي چې ورته اړتیا لري.

### د معلولیت د لاسرسي بسپنه (DAF)

که ستاسو ماشوم د معلولیت  ژوندانه مالي مرستې (Disability Living Allowance)  یا DLA  لپاره وړ وي، یو چمتوکونکی کولی شي په هر مالي کال کې د DAF غوښتنه وکړي. تاسو باید د DLA لپاره اسناد چمتو کړي. دا اضافي بسپنه کیدی شي د تجهیزاتو، سرچینو یا پدې ځای کې د معقولو بدلونو لپاره مصرف شي. که ستاسو ماشوم خپل تمویل شوي ساعتونه په دوو چمتوکوونکو ویشي، تاسو باید یو عمده چمتوکونکی وټاکئ کوم چې ستاسو د ماشوم لپاره به DAF ترلاسه کړي، DAF یوازې یو چمتوکونکي ته ورکول کیږي.

## 4. د FEEE ځایونو تمویل

د تمویل غوښتلو لپاره د ماشوم پالني چمتو کونکی ستاسو د ماشوم توضیحات په آنلاین فورمه کې د هرې دورې په ټاکلو وختونو کې اچوي، دې ته د سر شمیرنه ویل کیږي. دوی په فورمه کې د هر ماشوم لپاره د دوی د پالني لپاره د ساعتونو شمیر اضافه کوي، او دا معلومات د کونسل لخوا کارول کیږي ترڅو د تمویل هغه کچه معلومه کړي چې د ماشوم پالني چمتو کونکي ته به د هغې دورې لپاره ورکړل شي.

په یوه مالي کې 570 یا 1140 ساعته FEEE د 38 اونیو لپاره غوښتل کیدی شي. ځینې وړاندیز کونکي اجازه ورکوي چې دا تمویل په کال کې له 38 اونیو څخه زیاتو اونیو کې وکارول شي، کوم چې کیدی شي ګټور وي که چیرې تاسو ټول کال د ماشوم پالنې ته اړتیا لرئ. که چیرې د ماشوم پالني چمتو کونکی ستاسو تمویل شوی استحقاق له 38 اونیو څخه د ډیر مودې لپاره کاروي، دوی کولای شي د هرې تعلیمي دورې د بشپړو مجوزو ساعتونو لپاره غوښتنه وکړي. که تاسو خپل بشپړ استحقاق د 50 اونیو لپاره ترلاسه کوئ، ستاسو چمتو کونکی به ستاسو د والدین / پالونکي تړون په فورمه کې یادونه وکړي چې دوی په په هره دوره کې د ټولو مجوزو اونیو لپاره په اونۍ کې د 15 ساعتونو غوښتنه کوي، دا په بشپړ کال کې 570 یا 1140 ساعتونو ته رسیږي.

د FEEE تمویل ورکول کیږي که چیرې:

- ستاسو ماشوم د سر شمېرنې په فورمه کې وي او د سر شمیرنې په ورځ د ماشوم پالني چمتو کونکي کې سره راجستر وي.
- یا که ستاسو ماشوم په سر شمیرنه کې شامل وي مګر په همغه اونۍ کې ناروغ یا غیرحاضر وي خو کله چې ښه شي بېرته به ماشوم پالني چمتو کونکي ته ورشي.

که ستاسو ماشوم د سر شمیرنې له نیټې څخه وروسته پیل وکړي، دوی کولی شي د وخت څخه وروسته د تمویل غوښتنه وکړي که چیرې ستاسو ماشوم د دورې په جریان کې د ایسیکس ماشوم پالني خدمت له کوم بل چمتو کونکي څخه د تمویل شوي ساعتونو استحقاق نه وي ترلاسه کړی.

د ماشوم پاملرنې ټولو چمتو کونکو ته د هر یو استحقاق لپاره فی ساعت یو ټاکل شوی نرخ ورکول کیږي. نرخونه نه نشر کیږي ځکه چې د والدینو لپاره کومه پولي ارزښت نلري ځکه چې تمویل شوي ساعتونه باید د چمتوکونکي لخوا په وړیا ډول وړاندې شي.

چمتو کونکي کیدی شي د هغو 3 - 4 کلنو ماشومانو لپاره په ساعت کې اضافي 10p، 20p یا 30p ترلاسه کړي چې په یوه داسې سیمه کې ژوند کوي چېرته چې هستوګنې لګښت ټیټ دي.

که ستاسو ماشوم اضافي اړتیاوې ولري، د ماشوم پاملرنې چمتو کوونکی کولی شي د اپریل څخه تر جولای پورې د مشمول تمویل (IF) لپاره غوښتنه وکړي او بیا د سپتمبر څخه د ځانګړي تعلیمي اړتیاو د مشمول تمویل (SENIF) غوښتنه وکړي تر څو دا بسپنه د هغه اضافي اړتیاو په پوره کولو کې د مرستې لپاره وکاروي چې ستاسو ماشوم یې لري. که چیرې چمتو کونکی د تمویل غوښتنې لپاره د هغو اسنادنو په چمتو کولو کې مرستې ته اړتیا ولري چې باید په پام کې ونیول شي، دوی باید له خپل مشمول شریک (Inclusion Partner) څخه مرسته ترلاسه کړي.

## 5. د پام وړ ټکي

تمویل شوي استحقاقونه په بیلابیلو لارو اخیستل کیدی شي، د تمویل شوي ساعتونو اعظمي شمیر چې په یوه ورځ کې کارول کیدی شي 10 ساعته دي. د ماشوم پالني چمتو کونکي کولی شي:

- هره ورځ هغه موده وټاکئ چې دوی د FEEE ساعتونه وړاندې کوي، لکه د سهار له 9 بجو څخه تر 12 بجو پورې
- په ورځ کې حد اکثر 10 تمویل شوي ساعتونه ومنئ، د ساعتونو حد اقل شمېر شتون نلري
- د هغو تمویل شویو ساعتونو شمېر محدود کړئ چې په یوه ورځ کې ورته لاسرسی کیدی شي. د مثال په توګه، د پرانیستلو ساعتونه د سهار له 7 څخه د ماښام تر 7 بجو پورې دي مګر تمویل شوي ساعتونو ته یوازې د 8 ساعتونو لپاره لاسرسی کیدی شي، او پاتې 4 ساعته چارج کیږي.
- صرفاً د FEEE ځایونه وړاندې کوي چیرې چې د اضافي ساعتونو لپاره د پیسو ورکړې ته یا د اضافي لګښت ورکړې ته اړتیا نشته - داسې ځایونه کېدی شي محدود وي نو وګورئ چې ایا شتون لري که نه

- تمویل شوي ساعتونو ته د لاسرسي پرمهال کولی شي د مصرفي توکو لګښت چارج کړي - د لاربنود په پای کې جدول وګورئ.
- یوازې د تعلیمي دورې په ترڅ کې تمویل شوي ساعتونو وړاندې کوي یا د غځول شوي وړاندیز په توګه د رخصتۍ وختونه پوښي

دا مهمه ده چې پوه شئ چې د ماشوم پالنې مختلف چمتو کونکي به د تمویل شوي استحقاق بیلابېل وړاندیزونه ولري نو تاسو اړتیا لرئ داسې ځای ومومئ چې ستاسو اړتیاو سره سم وي. د ماشوم پالنې ډیری چمتو کونکي د FEEE ساعتونه به د ښوونځي دورې سره په ورته وخت کې وړاندې کړي، مګر دوی اړتیا نلري چې داسې وکړي، او ځیني به یې په نورو اونیو کې وړاندې کوي.

د FEEE ساعتونه، کولی شي د غرمې د ډوډۍ وخت په بر کې ونیسي چیرې چې د غرمې ډوډۍ وخت د دې لپاره کارول کېږي چې ماشومانو سره د نوي شیانو په زده کولو او نوي مهارتونو په وده ورکولو کې مرسته وکړي.

کله چې په FEEE ساعتونو کې د غرمې ډوډۍ وخت شامل وي، کیدی شي د غرمې ډوډۍ یا سناک لګښت ولري، مګر مخکې له دې چې ستاسو ماشوم پیل وکړي، د خواړو د هر ډول لګښتونو په اړه به له تاسو سره موافقه وشي.

د ماشوم پالنې چمتو کونکی یوازې د هغو ساعتونو او خدماتو لپاره لګښت اخیستی شي چې د تمویل شوي استحقاق برخه نه وي. وګورئ چې ایا تاسو اړتیا لرئ چې تمویل شوي ساعتونو ته د لاسرسي لپاره اضافي ساعتونه واخلئ. هر هغه لګښت چې تاسو یې باید تادیه کړئ باید د والدین / پالونکي په معلوماتو کې څرګند ډول واضح شي او تاسو باید مخکې له دې چې ستاسو ماشوم په دې ځای کې پیل وکړي او مخکې له دې چې د ځای د منلو لپاره لاسلیک وکړئ. د ماشوم پالنې خدمت چمتو کونکی باید د یوازې تمویل شوي ځایونو په اړه شرطونه وضع نکړي، یعني تاسو باید اضافي ساعتونه واخلئ، د غرمې د وخت لګښت ورکړئ، د راجستریشن فیس ورکړئ یا د یونیفورم اخیستلو لپاره فیس ورکړئ.

تاسو کولی شئ د خپلې خوښې ماشوم پالنې چمتو کونکي څخه د 38 اونیو څخه د لږ مودې لپاره تمویل واخلئ؛ مګر دوی باید د لږ تر لږه 33 هفتو لپاره تمویل ورکړي.

که تاسو د ماشوم پالنې داسې یو چمتو کونکي کاروئ چې د 38 اونیو څخه کم وخت لپاره خلاص وي ، تاسو نشئ کولی پاتې اونۍ بل چیرې وکاروئ. که تاسو بشپړ 38 اونیو ته اړتیا لرئ، ښه به دا وي چې د ماشوم پالنې داسې یو چمتو کونکي غوره کړئ چې دا وړاندې کولی شي.

د ماشوم پالنې ځیني چمتو کونکي داسې څه لري چې د "غځیدلی وړاندیز" په نوم یادیږي، چیرې چې تمویل غځول کېږي ترڅو د رخصتۍ دورې هم په بر کې ونیسي. خو تاسو باید پوه شئ چې د هرې دورې لپاره اعظمي ساعتونه چې تاسو یې غوښتنلی شئ بدلون نه مومي. د ساعتونو ټولټال شمېر چې په یو کال کې غوښتل کېدی شي 570/ 1140ساعته دی. که ستاسو چمتو کونکی په یو کال کې د 50 اونیو مودې لپاره تمویل وړاندې کوي، تاسو به په ډیرو اونیو کې لږ ساعتونه ترلاسه کړئ مګر د هغو ساعتونو شمېر چې تاسو یې مستحق یاست په خپل حال پاتې کېږي.

د ماشوم پالنې چمتو کونکی باید له تاسو سره د والدین / پالونکي د تړون فورمه ډکه کړي چې د FEEE وخت هغه ساعتونو او ورځې په کښې لیکل کېږي چې ستاسو ماشوم یې په هره دوره کې ترلاسه کوي. دا باید ستاسو د ماشوم له هغه ساعتونو څخه چې دوی ورځې ډېر نه وي. تاسو اړتیا نلرئ د ټولو ساعتونو غوښتنه وکړي که چېرې تاسو نه غواړئ ستاسو ماشوم د بشپړ 15 یا 30 ساعتونو لپاره ورشي.

که تاسو پریکړه وکړئ چې د سر شمېرنې ورځې څخه وروسته ساعتونه ډېر کړئ، د ماشوم پالنې چمتو کونکی نشي کولی د اضافي ساعتونو لپاره د تمویل غوښتنه وکړي. دا پدې مانا ده چې دوی به تاسو څخه د هغې دورې تر پای ته رسیدو پورې د اضافي ساعتونو د لګښت غوښتنه وکړي. **دا مهمه ده چې تاسو د ټولو جزیاتو څخه خبر یاست او له لاسلیک کولو څخه وړاندې د والدین / پالونکي تړون په فورمه او لاربنود کې ټول معلومات ولولئ. داډ ترلاسه کړئ چې تاسو د اضافي لګښتونو په اړه او دا چې دا لګښتونه د څه لپاره دي خبر یاست، او مخکې له دې چې ستاسو ماشوم پیل وکړي تاسو باید ورسره موافقې ته ورسیږئ.**

وګورئ چې د ماشوم پالنې چمتو کونکی د هرې دورې لپاره د تمویل شوي ساعتونو تضمین کوي او دا وړاندیز په دې بنسټ نه بدلیږي چې د ماشوم عمر څو دی او ایا غځېدلي ساعتونو ته اړتیا شته که نه.

که تاسو خپل ماشوم د دورې په جریان کې، وروسته له دې چې سر شمیرنه ترسره شي، بل چمتو کونکي ته انتقال کړئ، ستاسو نوی چمتو کونکی به ونشي کولی د ایسیکس کونټي کونسل څخه د FEEE ساعتونو د تمویل غوښتنه وکړئ. نو، تاسو کیدی شي په خپله نوي چمتو کونکي ته د هغې دورې د پاتې مودې لپاره فیس ورکړئ.

په داسې حالاتو کې، د ایسیکس کونټي کونسل کیدی شي له اصلي چمتو کونکي څخه وغواړي چې د هغې دورې لپاره غیر کارول شوي پیسې نوي چمتو کونکي ته انتقال کړي، مګر دا د دوی په تړون کې نشته، او موږ نشو کولی ټینګار وکړو چې دوی پیسې انتقال کړي.

همدارنګه، ستاسو اصلي چمتو کونکی به د خبرتیا ورکولو موده (نوټس پیرید) ولري او کیدی شي له تاسو څخه فیس واخلي که چیرې تاسو دوی ته په سم وخت کې خبرتیا ورنکړئ چې ستاسو ماشوم له دوی څخه ځي، مهرباني وکړئ مخکې له دې چې پریکړه وکړئ دا وګورئ.

ټول هغه بلونه چې تاسو یې ترلاسه کوئ باید تفصیلات ولري او دا موارد ښکاره کړي:

- دا چې تاسو د خپل ماشوم تمویل شوي ساعتونه په وړیا ټوګه ترلاسه کړي، د تمویل شوي ساعتونو سره باید هیڅ پولي ارزښت نغښتی نه وي.
- د تمویل شوي ساعتونو سربیره د اضافي ساعتونو/مجلسونو/ورځو تفصیلات چې له تاسو یې لګښت غوښتل شوی، مخکې له دې چې تاسو دا ځای ومنئ، چمتوکوونکی باید تاسو ته د دې لګښتونو په اړه وواییي ځکه تاسو د والدین / پالونکي تړون فورمې په لاسلیک کولو له دې سره موافقه کوئ.
- د هر ډول اضافي لګښتونو تفصیل لکه د مصرفي توکو چارج لګښت، خواړه او خدمات

مهرباني وکړئ په دې هم پوه شئ چې:

- هغه نرخونه چې د ماشوم پالنې چمتو کونکی د FEEE ساعتونو څخه بهر د اضافي ساعتونو لپاره اخلي ستاسو او د دوی ترمینځ یوه شخصي موضوع ده. سیمه ییز چارواکي نشي کولی د چمتو کونکو په خصوصي کاروبار کې ښکیل شي.
- که ستاسو ماشوم یوازې د دوی د FEEE ساعتونو لپاره ورځي نو تاسو بل ته اړتیا نلرئ. مګر چمتو کونکی باید تاسو ته وواییي چې دوی د تمویل لپاره غوښتنه کړې او داډ ترلاسه کړئ چې تاسو د والدین / پالونکي تړون فورمه ډکه کړې.

د ماشوم پاملرنې چمتو کونکي کولی شي د ټولو کارکونکو والدینو د استحقاقونو او د دریو او څلور کلنو ماشومانو د نړیوال استحقاق لپاره د FEEE ځای د خوندي کولو لپاره امانت پیسې یا دیپازیت واخلي. د توضیحاتو لپاره چې دیپازیت څنګه اخیستل کېدی شي او څنګه بېرته ورکول کېږي، لطفاً په 12 مخ کې جدول وګورئ.

په هره دوره کې کله چې دوی پرته له ماشومانو څخه خلاصېږي، چمتو کونکی کولی شي د یوې ورځې لپاره د FEEE غوښتنه وکړي ترڅو دوی وکولی شي د خپلو کارکونکو روزنه ترسره کړي. مخکې لدې چې تاسو د والدین/ پالونکي د تړون فورمه لاسلیک کړئ، دوی باید ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو پوهیږئ چې تاسو به د هرې دورې لپاره د تمویل شوي استحقاق یوه ورځ له لاسه ورکړئ. تاسو ته باید د هر پلان شوي بندیدو په اړه د 6 اونیو خبرتیا هم درکړل شي.

که ستاسو ماشوم په داسې ورځ کې ورشي چې د بانک رخصتی وي، مخکې له دې چې تاسو د والدین / پالونکي د تړون فورمه لاسلیک کړئ، چمتو کونکی باید تاسو ته خبر درکړي چې آیا دوی د بانک په رخصتیو کې بند دي که نه. چیرې چې په تمویل شوي اونیو کې د بانک رخصتۍ شتون لري، ستاسو ماشوم به خپل بشپړ استحقاق ترلاسه نکړي. چمتوکوونکي باید په بانکي رخصتیو کې د مصرفي توکو لپاره لګښت وانخلي.

که چیرې ماشوم د لنډې مودې لپاره غایب وي، د ماشوم پالنې چمتو کونکی به بیا هم تمویل ترلاسه کړي، د مثال په ډول که تاسو رخصتۍ اخلئ یا د تعلیمي دورې په جریان کې ماشوم ناروغ شي.

د کارکونکي والدینو استحقاقونه او د درې او څلور کلنو ماشومانو تمویل د ماشوم پالنې له دوه یا ډیرو چمتو کونکو سره کارول کیدی شي که چیرې دا ستاسو اړتیاوې پوره کوي. مګر تاسو کولی شئ یوازې په یوه ورځ کې دوه چمتوکونکو ته ورشئ. د ماشوم پالنې ځینې چمتو کونکي به د انحصاري چمتو کونکي پالیسي ولري چیرې چې تاسو باید خپل ټول استحقاق یوازې له دوی سره واخلئ او د تمویل ویش ته اجازه نه ورکوي.

که تاسو تمویل ویشئ، تاسو باید دا د والدین / پالونکي تړون په هغه فورمه کې ځای پر ځای کړئ چې تاسو یې د هرې دورې په پیل کې لاسلیک کوئ، د هغه ساعتونو شمیر چې تاسو به د هر ماشوم پالنې خدمت چمتو کونکي سره اخلئ. تاسو نشئ کولی د دواړو چمتو کونکو ترمینځ له خپل استحقاق څخه اضافه غوښتنه وکړئ.

د ماشوم پالنې چمتو کونکی موږ ته د هغه ساعتونو تفصیلات راکوي چې ستاسو ماشوم ورسره وي او ECC دا ګوري ترڅو د هر اضافه غوښتنو مخه ونیسي. که دوی اضافه غوښتنه وکړي، تاسو باید په خپله د ټولو هغه ساعتونو لپاره پیسې ورکړئ چې په تمویل شوي اسحقاق شامل ندي.

که ستاسو ماشوم دوه کلنو ماشومانو FEEE2 ترلاسه کوي، دوی یوازې کولی شي د 2 کلنو ماشومانو تمویل د لومړني کلونو یو چمتو کونکي سره وکاروي.

تاسو نشئ کولی تمویل د ماشوم پالنې چمتو کونکي او په ښوونځي کې د ریسپشن صنف ترمینځ وویشئ. دا ځکه چې کله یو ماشوم د ریسپشن صنف ته ځي، د دوی د ابتدایي زده کړې ټولې بودیجې د ښوونځي بودیجې ته تادیه کیږي او د ماشوم پالنې چمتو کونکی نشي کولی د دې تمویل غوښتنه وکړي.

که په نظر کې وی چې ستاسو ماشوم به ریسپشن صنف کې پیل وکړي، تاسو به د مني د دورې په پیل کې مخکې له دې چې دوی پیل وکړي، د ورځو یا اونیو لپاره د تمویل شوي ساعتونو استحقاق ونه لرئ.

ښوونځیو ته اجازه نشته چې ووایی که تاسو په ښوونځي کې ځای غواړئ نو تاسو باید د دوی په نرسري کې شامل شئ. که تاسو ته داسې وویل شي، موږ هیله کوو چې ECC خبر کړئ ترڅو موږ عمل وکړو.

که ستاسو د ماشوم پالنې چمتو کونکي اړ دی چې د تعلیمي دورې په جریان کې وتړل شي او تاسو باید یو بل چمتو کونکی پیدا کړئ، مهرباني وکړئ د بریښنالیک له لارې په دې پته د کورنۍ معلوماتو خدمت سره اړیکه ونیسئ .fis@essex.gov.uk کله چې تاسو یو بل چمتو کونکی پیدا کړ، دوی کولی شي د دې دورې پاتې مودې لپاره ستاسو د ماشوم تمویل شوي استحقاق لپاره له وخت څخه وروسته د تمویل غوښتنه وکړي.

که تاسو د دورې په جریان کې له یو بل ځایي مقام څخه ایسیکس ته کډه وکړئ، موږ به د ماشوم پالنې چمتو کونکي ته اجازه ورکړو چې د هر هغه ماشوم لپاره د تمویل غوښتنه وکړي چې دمخه یې په ایسیکس کې تمویل شوي اسحقاق نه وي ترلاسه کړی. دوی به وکولی شي د دورې د پاتې اونیو لپاره د FEEE ساعتونو تمویل لپاره 'ناوخته غوښتنه' وکړي.

که چیرې تاسو د ایسکس کاونټي کونسل په سیمه کې د تعلیمي دورې په منځ کې چمتو کونکي بدلوئ، دا د چمتو کونکي په اختیار کې ده چې ایا دوی د FEEE تمویل لیږدوي یا نه. لطفاً دا هم په پام کې ونیسئ چې له تاسو سره د ماشوم پالنې بندوبست پای ته رسولو لپاره به هر چمتوکوونکی ځانته د خبرتیا موده لري.

چمتو کونکي اړ دي چې د چمتو کونکي په پورټل کې د Better Start ټب په کارولو سره په هره تعلیمي دوره کې د هغو ماشومانو د پرمختګ معلومات وسپاري چې FEEE2 او FEEE2W تمویل کاروي. که چیرې تاسو نه غواړئ چې چمتو کوونکی ستاسو د ماشوم لپاره د پرمختګ معلومات وسپاري، لطفاً 2yearold@essex.gov.uk آدرس ته یو بریښنالیک ولیږئ او ایسېکس له خپلې پرېکړې خبر کړئ.

## 6. د فیسونو او لګښتونو جدول

| | **ماشوم یوازې FEEE2 ساعتونه اخلي** | **ماشوم د FEEE2 ساعتونه اخلي او د اضافي ساعتونو لپاره پیسې ورکوي** | **ماشوم یوازې FEEE3&4، FEEE2W او FEEE1W ساعتونه اخلي** | **ماشوم FEEE3&4، FEEE2W او FEEE1W ساعتونه اخلي او د اضافي ساعتونو لپاره پیسې ورکوي** |
|---|---|---|---|---|
| *** د نوم ثبتولو / اداري فیس** | **باید** چارج نشي | **باید** چارج نشي | **باید** چارج نشي | **کېدی شي** چارج شي |
| ***اداري فیس** | **باید** چارج نشي | **باید** چارج نشي | **باید** چارج نشي | **کېدی شي** چارج شي |
| **دیپازیټ - د بیرته ورکولو وړ (ریفندیبل)** (که چیرې FEEE ته د لاسرسي څخه دمخه پیسې یا دیپازیټ واخیستل شي، دا پیسې **باید** د لومړي هغه نیم ترم (هاف ترم) د پیل څخه وړاندې والدین ته بیرته ورکول شي چې تمویل پکښې پیل کیږي) | **باید** چارج نشي- (د ایسیکس اړتیا، FEEE2 د مالي معیارونو پراساس. دیپازیټ کیدای شي دې پیسو ته د والدینو د رسیدو په وړاندې یو خنډ وي. | **باید** چارج نشي (یوازې د FEEE2 ساعتونو لپاره) | **کیدی شي** حد اعظم د هغه ساعتونو د شمیر پر بنسټ چې والدین یې اخیستل غواړئ، د یوې اونۍ د لګښت معادل وي. دا **باید** د هغه لومړي نیم ترم (هاف ترم) د رخصتۍ څخه دمخه والدین ته بیرته ورکول شي چې استحقاق پکښې اخیستل شوی | فیس **کیدی شي** واخیستل شي مګر باید د تمویل شوي ساعتونو پورې اړوند دیپازیت باید د هغه لومړي نیم ترم (هاف ترم) د رخصتۍ څخه دمخه والدین ته بیرته ورکول شي چې استحقاق پکښې اخیستل شوی *** لاندې مثال وګورئ. |
| **داوطلبانه مالي مرسته** | **کیدی شي** د مختصر خواړو (سناک) او نورو شیانو لپاره د رضاکارانه مالي مرستې غوښتنه وکړئ. | **کیدی شي** د مختصر خواړو (سناک) او نورو شیانو لپاره د رضاکارانه مالي مرستې غوښتنه وکړئ. | **کیدی شي** د مختصر خواړو (سناک) او نورو شیانو لپاره د رضاکارانه مالي مرستې غوښتنه وکړئ. | **کیدی شي** د مختصر خواړو (سناک) او نورو شیانو لپاره د رضاکارانه مالي مرستې غوښتنه وکړئ. |
| **** د مصرفي توکو چارج** | **باید** تطبیق نشي. | **کیدی شي** تطبیق شي مګر یو بدیل انتخاب یا د حل لاره **باید** وړاندې شي | **کیدی شي** تطبیق شي مګر یو بدیل انتخاب یا د حل لاره **باید** وړاندې شي | **کیدی شي** تطبیق شي مګر یو بدیل انتخاب یا د حل لاره **باید** وړاندې شي. |

*که چیرې د تمویل شویو ساعتونو لپاره د شرایطو پوره کولو څخه دمخه یو ماشوم د لومړنیو کلونو زده کړو یو چمتو کونکي سره شامل شي، نو راجسټریشن/اداري فیس کیدی شي واخیستل شي.

* په مصرفي توکو کې د لمر کریم، نپۍ، مختصر خواړه یا سناک، خواړه، سفرونه، متخصصې ښوونې، یونیفورم، اود نصاب څخه بهر فعالیتونه شامل دي. چمتوکونکي باید د EYFS وړاندې کولو لپاره د عمومي چارو عملیاتي لګښتونه لکه کاغذ، رنګ، فوټوکاپي. پاکول او اسانتیاوې، شامل نه کړي.

په دې اړه چې  بدیل اختیار کوم موارد په بر کې نیسي، چمتوکونکي باید د والدینو لپاره په خپلو معلوماتو کې خپله پالیسي جوړه کړي.

*** د امانت یا دیپازیت مثال:

ماشوم په اونۍ کې 40 ساعته چمتوکوونکي تر ورځې: -

- ماشوم 30 ساعتخ FEEE اخلي
- اخیستل شوی دیپازیت £250
- £250: - 40 ساعته = فی ساعت £6.25  ضرب 30 ساعته FEEE  مساوی £187.50. دا باید د هغه لومړي نیم ترم (هاف ترم) د رخصتۍ څخه دمخه والدین ته بیرته ورکول شي چې استحقاق پکښې اخیستل شوی
- £250: - 40 ساعته = فی ساعت £6.25 ضرب 10 ساعت شخصي فیس مساوي £62.50. چمتوکوونکی کولی شي د خپلې پالیسی سره سم د £62.50 دیپازیت باقي مقدار له ځان سره وساتي.